# [illegible]

Ketabton.com

تاریخ: ۱/۱۳۹۸ /۲۷

جلیل احمد امیري
MRT WWW.WIN2FARSI.COM [Company address]

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحیم

## سریزه

دعضوی کیمیا پرمختګ په اولسمه پیړی شروع شوچی دمنرالی موادو ترڅنګ نباتی او حیوانی مواد هم کیمیاوی څیرنی ته ورګډشول.یوفرانسوی کیمیاپوه لاوازیه*Lavosis*په ۱۷۷۴ م کی پیدکړچی دبوټو اوحیوانی موادودسوزولوڅخه کاربن دای اکساید اواوبه حاصلیږی .چی دهغی څخه داثابته شوه چی کاربن اوهایدروجن دنباتی او حیوانی موادو اساس جوړوی لاوازیه په دی څیرنه کی کله کله هم نایتروجن اویا دهغی اکساید پیداکاوه چی په ځینو طبعی موادو کی دنایتروجن موجودیت ته اشاره کیده. دپخوازمانی راهیسی ځینی عضوی مرکبات لکه قند،الکول،نشایسته ،رنګ او همدارنګه نورپیژندل شوی وو.خلکودمیوی داوبو،شاتو اوداوربشودتخمر په واسطه دالکولوجوړولوسره اوهمدارنګه دطبعی موادو څخه دحاصل شوی رنګ په واسطه دټوکرانودرنګولوسره اشنایی درلوده . شلی (*sheele*)دی نتیجی ته ورسید چی دنباتی او حیوانی منابعوڅخه حاصل شوی عضوی موادډیرزیات سره ورته دی او دغیرعضوی موادوڅخه په کیمیاوی خواص کی خورا زیات توپیرلری ځرنګه چی دکیمیاپوهانوهغه وخت یواځی ددغه موادوتجزیوی تعاملاتواجراکولی شول نوله همدی کبله بریزیلویس(Berzelius )په۱۸۰۸م کال کی په دی عقیده وه چی عضوی مواد یواځی په ژوندیوموجوداتوکی دحیاتی قوی (*vital force*)په واسطه جوړیږی اوپه مصنوعی ډول ناممکن دی،یوالمانی کیمیاپوه وهلر(*Wohler* )په ۱۸۲۸م کی دامونیم سیانات څخه چی یوغیرعضوی مرکب دی یوریا چی یوعضوی مرکب دی اوپه دی توګه دحیاتی قوی مفکوره رد شوه.




$NH_2CNO \xrightarrow{\text{Heat}} NH_2CONH_2$

*(Inorganic compound)* *(Organic compound)*

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وخت په تیریدو سره کیمیا پوهانو مختلف عضوي مرکبات جوړ کړل چي په اوسني وخت کي شمیر یي د اووه پنځوس (۵۷) میلیونه څخه زیات دي. د درملو رنګونه ، عطرونه ،ویټامینونه ، پروتین ، قندونه ،الکول ،وریښم،پلاستیک،ربړ او داسی نور د مهمو ګټورو عضوي موادو له جملي څخه شمیرل کیږي. عضوي کیمیا د عضوي مرکباتو جوړښت سنتنیز او تعاملات څیړي. عضوي مرکباتو اساسي عناصر کاربن،هایدروجن،اوکسیجن،نایټرجن،سلفر او فاسفورس دي. دوي اکثره د مباتي او حیواني موادو له تجزيي څخه جوړیږي چي په دي توګه یه خامو نفتو او سکارو کي هم پیدا کیږي.

## د عضوی کیمیا د تدریس عمده تعلیماتو هدف په لاندي ډول خلاصه کیږي.

- دهایدروکاربنونوپه اړه به لا زیات مهم معلومات ترلاسه کړی.
- دالیفاتیکهایدروکاربنونوپه اړه به لا زیات مهم معلومات ترلاسه کړی.
- دالکان (*Alkane*)په اړه به معلومات ترلاسه کړی.
- دالکین (*Alkene*)په اړه به معلومات ترلاسه کړی.
- دالکاین(*Alkynes*)په اړه به معلومات ترلاسه کړی.
- دددداینونه(*Dines*)په اړه به معلومات ترلاسه کړی.
- دهایدروکاربنودهلوجندار همشتقاتوپه اړه به معلومات ترلاسه کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# *Organic chemistry*

## کیمیاعضوی

عضوی کیمیاهم لکه عمومی اوغیرعضوی کیمیا دکیمیا یوه څانګه ده چی دعضوی مرکباتوپه اړه څیړنه کوی.په طبیعت کی هغه ترلاسه شوی مرکبات چی دطبعی سرچینو څخه لاس ته راځی دکیمیاپوهانولخواپه دوو برخوویشل شوی دی.

الف:**عضوی مرکبات** ب:**غیرعضوی مرکبات**

عضوی مرکبات:ـ

هغه مرکبونه دی چی په اندازه کاربن اوهایدروجن ولری اوهمدارنګه په لږاندازه نایتروجن،اکسیجناوسلفرهم ولری یعنی داوسنی پرمخ تللی کیمیاوی څیړنی په نتیجی کی معلومه شوی دی چی دعضوی مرکبونو اساسی جوړونکی اجزاوی کاربن او هایدروجن دی حال داچی په طبیعت کی دکاربن مرکبونوشمیر نسبت نورومرکبونوته زیات دی البته ځینی اسنثنأات شته لکه $CO_3$, $Na_2co_3,Co_2,co$ چی دا مرکبونه که څه هم پخپل ترکیب کی کاربن لری مګرعیرعضوی مرکبونه دی. ویلای شو چی ٪۹۰فیصده عضوی مرکبونه په لابراتواری ډول ترلاسه کیږی اوپاتی فیصدی یی دطبعی منابعو څخه تر لاسه کیږی.عمده طبعی سرچینی دعضوی مرکبونوعبارت دی له نفتو،طبعی ګاز،دډبروسکاره Coalچی دالبفاتیک هایدروکاربونونوخام مواد دی ا Coalداروماتیکی مرکبونوخام مواد دی.عضوی مرکبونه کولای شو چی نباتاتواوحیواناتوڅخه هم ترلاه کړو.

کاربوهایدریتونه ،پروتینونه،تیل،شحمیات اوداسی نورژوندی مثالونه دعضوی مرکبونوڅخه دی کوم چی دژوی‌اونباتاتوپه ترکیب کی پیداکیږی.همدارنګه یوتعداد دعضوی مرکبونه دغیرعضوی مرکبونودسنتز څخه ترلاسه کیږی.

عضوی مرکبونه معملأداشتراکی رابطی(پیوند)په اساس جوړشویدی چی دکاربن اتومونه کولای شی چی په خپل مینځ کی یوتربله داوږد ځنځیریا کړی اویا هم بیضوی شکله کړی جوړی کړی چی نورعناصرداخاصیت نه لری که چیری وی هم ډیرلږلیدل کیږی.

## ***Valence of the carbonدکاربن ولانس***

پوهیږوچی اتومی نمبردکاربن۶اواتومی کتله یی 12ده الکترونی ویش یی په لاندی شکل کی ښودل شویدی.په اخری مدار کی (4e )لری اوهایدروجن دځلورو۴اتوموتو څخه د۴الکترونواخستلووروسته کوولانت پیوندونه( *Cov-bonds* )جوړوی پدی ترتیب دهایدروکاربن لومړی مرکب میتان فارممول لاس ته راځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(*Normal state*)$C_6$=1S 2S2$P_X$2$P_Y$2$P_Z$

(*Excited state*)$C_6$= 1S 2S 2$P_X$2$P_Y$2$P_Z$

$C_6$= 1S 2S 2$P_X$2$P_Y$2$P_Z$

Sp3*Hybridization*$C_6$=



$SP^3$ $SP^3$ $SP^3$ $SP^3$

$C_6$=1S 2S 2$P_X$2$P_Y$2$P_Z$

H=1S1S=H

H=1S 1S=H




*Ball and stick model of methane*

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Hybridization -1

دیواوربیتال په واسطه دبل اوربیتال پوښل یا تداخل ته هابیریزیشن یاهابیریدل اوربیتال Hybrides orbitalsویل کیږی چی موږ یی څوډولونه په لاندی توګه ذکرکوو.

### SP ³ Hybridization1-

دیواوربیتال(S)اودری اوبیتال( P )له آمیزیشن څخه مینځ ته راځی دغه اوربیتالونه دڅلوروکنجونوپه شکل فضائ جوړښت جوړوی چی د دوو اوربیتالونوترمینځ زاویه ۵،۱۰۹درجی ده .مثال لکه میتان.




$sp^3$ څلوراوربیتالونه

### SP³ Hybridization:2

هغه هایبریدی اوربیتالوته ویل کیږی چی دیو ( S )اوربیتال اود دوه(P )اوربیتالودامیزیشن څخه لاسته راځی ( $SP^3$ )اوربیتالونه دیومتساوی الاضلاع مثلث دکنجونوپه سمت کی جهت ګیری کوی پدی ډول دهراوربیتال ترمنځ زاویه ۱۲۰درجی وی مثال یی دالکین Alekeneکورنی لومړی مرکب ایتلین CH2=CH2دی چی د دوه اشتراکی رابطوپواسطه جوړیږی چی یوه رابطه یی دسیګما( ∑ )اوبله یی دپای( π)په نامه یادیږی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



- $CH_2=CH_2$




120

S+P+P( Z Z Z ) دری $SP^2$اربیتالونه




- $CH_4$




190؛5

خلور SP3اربیتالونه



*Four hybridization*

د( )هایبریدی اوربیتالونومثالونه:

د BF3مرکب په نظرکی نیولوسره که چیری په نوموړی مرکب دبورن الکترونی *Configuration* ځیرشو نولیکوچی.

$B_5=1S^2\ 2S^2\ 2P^1$ اویا $B_5=1S^2\ 2S^2\ 2P^1$



(c) ketabton.com: The Digital Library



دBد الکترونی *Configuration*څخه معلومیږی چی په عادی حالت یوطاق الکترون لری مګر د دریوپیوندو دپاره دریوطاقو الکترونوته ضرورت لری نوځکه دBاتوم تحریکوی ترڅودS2یوالکترون دp2اوربیتال اشغال کړی اولاندی حالت اختیار کړی.

$B_5 = 1S^2 2S^1 \quad 2P^2$



تحریک شوی بورن

اوس که چیری وغواړو چی یو پایداره مالیکول جوړکړوباید ممکنه قوی ترینه پیوندونه جوړکړو ترڅوجهت دارترین اتومی اوربیتالونه لاسته راوړو.

$B_5=1S^2 2S^1 2P^2$



$B_5=1S^2 \quad SP^2$



S

$P^2$

ددی الکترونی ساختمان څخه لیدل کیږی چی دBدی یواوربیتال دPددوه اوربیتالوسره هایبرید کیږی.چی په هغه کی دBاتوم دیوه دری کنجی په منځ کی اودFدری اتومه یی په رآسونوکی قرارنیسی.









(c) ketabton.com: The Digital Library






120°

## 3:-:- ***SP hybridization***

په دغه ډول اوربیتالو کی دیوSاویوPاوربیتال دیوځای کیدو په نتیجه کی مینځ ته راځی دSPاوربیتالونه دیومستقیم خط په امتداد یرځتی کیږی پدی ډول چی داوربیتالوترمنځ 180درجی زاویه جوړوی مثال یی داسیتلین Acetyleneکورنی لومړی مرکب استلین$CH \equiv CH$ دی چی د دوو اشتراکی رابطوپواسطه جوړیږی.




H !!!Pm $sp^2$ sp sp

(c) ketabton.com: The Digital Library









دکیمیاوی موادو د امالیکولو هندسی (فضایی جوړښت)په هغه مالیکول کی دکیمیاوی (کولانسی )اړیکو ترمنځ زاویوپوری اړه لری په یوه مالیکول کی دکیمیاوی اړیکو ترمنځ دزاویواندازه الکترونی اوربیتالو دپیوندیدودنظریی په لاندی تشریح کیږی.

## پیونداوربیتالونه:-

په ځینو جالاتو کی دیواتوم ځوالکترونی اوربیتالونه چی شکل اوانرژی یی دیوبل څخه توپیرلری پخپل مینځ کی پیوند یاګډیږی دهغوی څخه نوی داسی الکترونی اوربیتالونه لاس ته راځی چی انرژی اوشکل یی یوشی اوهم په خپلومنځوکی یودبل په نسبت الکترونی اوربیتالونه یودبل سره دګډیدو(شریکیدو)دنظرییی په اساس لاندی تشریح کیږی.

**الف**:- که دکاربن د دوه اتومونویویوالکترونی اوربیتالونه به لاندی ترتیب (Aشکل)کی یودبل سره ګډ شی نودلته دکاربن داتوموهستی یودبل څخه لیری واقع کیږی او د دغه هستوترمنځ ددفع قوه لږوی نوځکه دلته د دواړواتوموالکترونی اوربیتالونه یوپه بل کی ډیر ننوځی (ګډیږی)اودکاربن داتوموترمنځ مضبوطه کوولانسی اړیکه جوړیږی دایوه کوولانسی اړیکه ()C__Cدسګما(∑)اړیکی په نوم یادیږی.

ب:- اوس که د(∑)اړیکی وروسته د دغواتوموترمنځ دویمه کولانسی اړیکه جوړیږی دادویمه اړیکه د پای(π)داړیکی په نوم یادیږی.دلته دکاربن داتومودویم الکترونی اوربیتالونه پهلاندی ترتیب (Bشکل)یوبل سرره ګډیږی.داځل چی دکاربن داتوموهستی یوبل ته نژدی اودهغوی ترمنځ د دفع قوه زیاته ده نودلته الکترونی اوربیتالونه یودبل سره لږګډیږی اوکیمیاوی اړیکه چی داځل جوړیږی نسبتآسسته وی اوس که ددی دوه کیمیاوی اړیکودپاسه ددغه اتوموترمنځ دریمه اړیکه چوړیږی هغه به هم دپای(π)اړیکه وی اوپه عینی ترتیب به دامنځ ته کیږی د(∑)او(π)اړیکودجوړیدوترتیب دایتلین په مالیکول کی ښودل کیږی .



(c) ketabton.com: The Digital Library






Π

په الفاتیک اواروماتیک مرکبونو کی دپای(π)اړیکی ټینګښت (مضبوطوالی)یودبل څخه توپیر لری.مثلاً دایتلین اوهلوجنوترمنځ جمعی تعاملونه ترسره کیږی اودپای(π)اړیکه ماتیږی .خوبنزین په جمعی تعاملاتوکی برخه نه اخلی اودلته د(π)اړیکه نیتآ ټینګه ده.په ایتلین کی د(π)اړیکه داړوند دوه اتوموترمنځ محدوده ده.خوپه بنزین کی د(π)اړیکه لامحدوده (ګرځنده)ده نوځکه د(π)اړیکه په اسانی سره پداسی ډول واقع کیږی معین فضایی جوړښت منځ ته راوړی اوبیا چی دغه پیوندی اوربیتالونه دبل اتوم دالکترونی اوربیتالوسره کیمیاوی اړیکه جوړی نودلاسته راغلی ملیکول فضایی جوړښت به دهمدغه پیوندی اوربیتالودفضایی جوړښت پربنسټ جوړیږی په مخکنی درس کی دیواتم دSاوPالکترونی اوربیتالونوپیوندیدل اودلاس ته راغلوSP3,SP2,SPپیوندی اوربیتالونوفضایی جوړښتونه وښودل شوه اود دی پیوندی اوربیتالونودفضایی جوړښت پربنسټ دمیتان،امونیااواوبوفضایی جوړښتونه داسی تشریح کیږی.




دمیتان،امونیااوداوبوپه مالیکول کی مرکزی اتومونه (C,N,O)په پام کی نیسو دنوموړوعناصروداتومونوپه ولانسی الکترونی پوښونوکی(SاوP)اوربیتالونه څلور$SP^2$پیوندی اوربیتالونه جوړوی.

دمیتان په مالیکول کی چی دکاربن داتوم څلور واړه$SP^3$پیوندی اوبیتالونه دهایدروجن دڅلورواتومونود1Sاوربیتالوسره څلورکوولانسی اړیکی جوړوی د دغو اړیکوترمنځ زاویی۱۰۹،۲۸درجی کوولانسی اړیکی جوړوی .دامونیا په مالیکول کی چی دنایتروجن اتوم دریSP3اوربیتالونه دهایدروجن د دریو اتومونوسره دری کوولانسی اړیکی جوړویاودSP3یواوربیتال ناپیلی پاتی کیږی داناپیلی اوربیتال خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګ ته کیمیاوی اړیکی دفع کوی چی په نتیجه کی دnh3په مالیکول کی دHNHزاویی کوچنی ۵،۱۰۷ کیږی.

داوبوپه مالبکول کی داکسیجن دوه SP3اوربیتالونه ناپیلی پاتی کیږی چی دغه اوربیتالونه هم پخپل مینځ کی اوهم خپلوځنګو ته کیمیاوی اړیکی دفع کوی نود دفع ددغی زیاتی قوی له امله داوبو په مالیکول کی HNHزاویه ډیره کوچنی شوی ده.

## ***ایزومیری*** ***Isomerism***:-

هغه کیمیاوی مرکبونه دی چی کیمیاوی جمعی فورمولونه یی یوشی اودمالیکولوجوړښتی فورمولونه یی توپیر لری .لاندی دځینوایزومیرونو مثالونه.




1,2dihydhoxy benzene 1,3dihydhoxy benzene 1,4dihydhoxy benzene

(b)




1_ChloroproPropane 2_chloroPropane

پورته جوړښتی ایزومیرونه ګوری چی وظیفوی ګروپونه یی یوشی خوپه مالیکولونوکی یی د ظیفوی ګروپونوځایونه توپیرلری.




Di methyl ether یا meth oxy methane Ethanol

دجوړښتی ایزومیرونومثالونه چی وظیفوی ګروپونه یی توپیر لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library






Cis_but_2_ene trns_but_ene Keto from enol tautomerism

Cis trans isomers in which the groups are distributed on a double bond.

دفضایی هندسی ایزومیری مثالونه stereo isomerismسیتروایزومیری.

ایزومیرونه کیدای شی چی مختلف مواد لکهCH3_O_CH3اوCH3_CH2_OHوی اویایی په مالیکولونوکی دوظیفوی گروپونوموقیعتونه توپیر لری چی داډول ایزومیروی دجوړښتی ایزومیری په نوم یادیږی.دجوړښتی ایزومیرونوکیمیاوی اوفزیکی خواص یودبل څخه توپیرلری هغه موادچی دمالیکولونوکیمیاوی فورمولونه یی یوشی اوهم یوډول وظیفوی گروپونه لری خوپه فضایی کی دوظیفوی گروپونوموقیعتونه بودبل څخه فرق ولری داډول ایزومیردفضایی ایزومیریStereo isomerismپه نوم یادیږی.

دسیتروایزومیری یومثال cis transایزومیری ده چی په فضایی کی دوظیفوی گروپونوموقیعتونه یی فرق لری.

## دکیمیاوی فورمول پیداکول:-

دیونامعلوم عضوی مرکب دکیمیاوی فورمول دپیداکولواساس دهغه مرکب ددعناصرومقدارتعین تشکیلوی چی دفیصدی په شکل لیکل شوی وی.دعناصروموندل شوی فیصدی دهغوی په اتومی وزن ویشل کیږی چی دهغی څخه دنامعلوم مرکب داتوموتناسب پیداکیږی په ساده ډول دغه دیومثال پواسطه تشریح کیږی.

دعناصرودمقداری انالیزپواسطه لاندی فیصدی پیداشوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



| اتومی وزن | فیصدی | خارج قسمت |
|---|---|---|
| C=12 | C=40.82% | 40. 82 : = 3 . 40 |
| H=1 | H=8.63% | 8.63: 1=8.63 |
| N=14 | N=32.75% | 23.75: 14=1.69 |
| مجموعه | 73,20% | |
| توپیر | 0=26,80% | 26,80:16=1,67 |
| ټوله مجموعه | 100,00% | |

ددی په نتیجه کی:

C:H:N:O=3,40:8,63:1,69:1,76 داتوموتناسب حساب شوی خارج قسمت په کوچنی عدد یعنی 1,67تقسیم کیږی چی له هغی څخه C:H:N:O=2:5:1:1لاسته راځی ددی له مخی دعناصروساده تناسبی فورمول C2H5HOدی چی دځو واری C4H10N2O2, $C_6H_{15}H_3O_3$اویاعمومی.

$C_{2n}$ $H_{5n}$ $N_n$ $O_n$ (n=1, 2, 3)شکل هم نیولی شی.

مثال: یوعضوی تعامل چی دکاربن،هایدروجن اوکلورین عناصر لری کوانتیتاتیوی تجزیه موږته وروسته دسوځولوڅخه په 1,79دنوموړی تعامل کی 0,88gکاربن دای اکساید او0,36gاوبه په لاس راکړی مولی اندازه یی دتجزیی په مرسته دااعداد84,6g/molوټاکل شوه. اوس نوتاسی لومړی دافورمول پیداکړی اوبیایی دجوړښت ډول (ستركچر)معلوم کړی ؟

حل: دکاربن دای اکساید څخه دکاربن اندازه پداکوو.

a) $C+O_2 2C_2O \longrightarrow$ x= $\frac{12gr*0,88gr}{44gr} = \frac{10,56gr}{44gr}$

$\frac{12gr}{x} \times \frac{44gr}{0,88gr}$= x=0,24gr

دابوڅخه دهایدروجن اندازه په لاس راوړو.

b) $_2H_2$ + $O_2 2H_2O \longrightarrow$ X= $\frac{4gr\times0,36gr}{36gr}$ = 2,04gr

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\frac{4gr}{x} \times \frac{36gr}{0,36gr} = 0,04gr$$

نوکله چی 1,gr عضوی ماده وسوځل شی په کی 0,24gr کاربن او 0,04gr هایدروجن لاسته راځی دکلورین اندازه دکاربن اوهایدروجن دتوپیر څخه سرﻯ معلوموﻻی شی.

$$1,7\text{gr} - (0,24gr + 0,04gr) = 1,7gr - 0,28gr = 1,42gr$$

د 1,7gr عضوی مادی دسوځولوڅخه 1,42gr کلورین ﻻس ته راځی داندازوله تناسب څخه بیا داتومونو دشمیر تناسب پیداکیدای شی.

$$\text{دکاربن دمولونونسبت} = \frac{\text{دکاربن فیصدی} \times \text{یومولدکاربن}}{\text{د کاربن اتومی کتله}} = \frac{1mol \times 0,24gr}{12} = 0,02\, {}^{gr}/_{mol}$$

$$\text{دهایدروجن دمولونونسبت} = \frac{\text{فیصدی دهایدروجن} \times \text{هایدروجنیومول}}{\text{دکاربن اتومی کتله}} = \frac{1mol \times 0,04gr}{1} = 0,04\, {}^{\text{gr}}/_{\text{mol}}$$

$$\text{دکلورین دمولونونسبت} = \frac{\text{فیصدی دکلورین} \times \text{کلورینیومول}}{\text{دکلورین اتومی کتله}} = \frac{1mol \times 1,42gr}{35} = 0,04\, {}^{\text{gr}}/_{\text{mol}}$$

څرنګه چی دلته تر ټولوکوچنی عدد 0,02 دی نواوس دهرعنصرمولی نسبت پرهمدغه عددویشو ترڅوتام اعدادترﻻسه کړو.

$$\text{کاربن} = \frac{0,02}{0,02} = 1 \qquad \text{هایدرجن} = \frac{0,04}{0,02} = 2 \qquad \text{کلورین} = \frac{0,04}{0,02} = 2$$

کله چی داپورته عددونه په عمومی فورمول CnH2nCl2n کی ولیکل شی نوپه ﻻندی ډول سره داتوموشمیرپه فورمول کی پیداکیږی.

مولی اندازه د n په ﻻندی ډول دی.

$$1C = 12gr/mol$$
$$2H = 2gr/mol$$
$$2Cl = 71gr/mol$$
$$CH_2\,Cl_2 = 85g/mol$$

څرنګه چی په سوال کی دمرکب مالیکولی کتله تقریباً 84,6g/mol راکړل شوی ده پس دغه فورمول دمرکب حقیقی فورمول دی تعامل لپاره یوازی یوټاکلی جوړښت یاسترکچرشته چی هغه عبارت له دی کلورومیتان Dichloromethane څخه.



## تجزیه:-

تجزیه په دوه ډوله ده،توصیفی تجزیه چی دیوی مادی اجزاوی ښی اومقداری تجزیه دعناصرواندازه اومقدارپه تجزیه شوی مرکب کی راښی مثلاًپه عضوی مرکبونوکی دکاربن اوهایدروجن دفیصدی دپیداکولولپاره ددی ډول فورمولوڅخه استفاده کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$H\%=\frac{\text{وزن}\,H2O\,\text{د}\,2/18\times100}{\text{دعضوی مادی وزن}}$$

$$C\%=\frac{\text{وزن}\,CO2\,\text{د}\,12/44\times100}{\text{د عضوی مادی وزن}}$$

مثال:- د2گرامه عضوی مادی دسوځیدوڅخه 3,8grکاربن دای اکساید او۴گرامه $H_2O$ حاصل شوی دی.تاسوپه نوموړی مرکب کی دکاربن اوهایدروجن فیصدی معلوم کړی .

حل:لومړی طریقه:-

$$C\%=\frac{3{,}8gr\times\frac{12}{44}\times100}{2gr}=\frac{3{,}8gr\times\frac{1200}{44}}{2gr}=\frac{3{,}8gr\times27{,}27}{2gr}=\frac{103{,}63}{2gr}=51{,}81\%$$

$$H\%=\frac{4gr\times\frac{2}{18}\times100}{2gr}=\frac{4gr\times\frac{200}{18}}{2gr}=\frac{4gr\times11{,}11}{2gr}=\frac{44{,}444}{2gr}=22{,}22\%$$

**<u>دوهمه طریقه:-</u>** عضوی ماده $CO_2$

a) $\frac{3{,}8gr}{x}\times\frac{2gr}{100gr}=X=\frac{3{,}8gr\times100gr}{2gr}=\frac{380gr}{2gr}=190grCO2$

C $CO_2$

$$\frac{12gr}{x}\times\frac{44gr}{190gr}=\quad X=\frac{12gr\times190gr}{44gr}=\frac{2280gr}{44}=51{,}81\%$$

H2o عضوی ماده

b) $\frac{4gr}{x}\times\frac{2gr}{100gr}=\quad x=\frac{4gr\times100gr}{2gr}=\frac{400gr}{2}=200gr$

H H2O

$$\frac{2gr}{X}\times\frac{18gr}{200gr}=\quad x=\frac{2gr\times200gr}{18gr}=\frac{400gr}{18}=22{,}22\%$$

په ټولوعضوی مرکبونو کی دCاوHفیصدی داسی په اسانی سره نه معلومیږی بلکه دهغه دمعلومولواوتشخیص لپاره باید تجربه سرته ورسو.

مثال: دیومرکب په سلوبرخوکی ٪39,99برخی کاربن ٪6,65برخی هایدروجن او٪53,29اکسیجن موجود دی که دمرکب مالیکولی وزن موهم تجربتاَ 180,18پیداکړی وی نوپیداکړی؟

الف: **دکاربن،هایدروجن اواکسیجن دمولونونسبت.**

ب: **دمرکب ساده کیمیاوی فورمول.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ج: دمرکب حقیقی کیمیاوی فورمول.**

- په لاندی مرکباتوکی عضوی اوغیرعضوی مرکبونه په نښه کړی؟

a)$HCl$ b)$CCl_4$ c) $CHI_3$ d) $CS_2$ e)$C_6H_{12}O_6$ f)$CO_2$ g)$HCN$ i)$co_3$ j)$CBr_4$ k)$SO_2$ l)$CH_3CO_2H$

# هایدروکاربونونه

# *Hydrocarbns*

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساده عضوی مرکبات یوازی دکاربن اوهایدروجن د اتومو څخه جوړشوی.دغه مرکبات دکیمیاوی خواصوله مخی په دریوګرپوویشل کیږی.

1. مشبوع هایدوکاربونونه الکان Alkaneیا پارافینParaffinاویاسایکلوالکان Cycloalkane.
2. غیرمشبوع هایدروکاربونونه الکینAlkeneیااولیفین Olefinاوالکاین Alkanes.
3. اروماتیکی هایدروکاربونونه.



(c) ketabton.com: The Digital Library



Acyclic compounds (open chain) Or Aliphatic compound

Cyclic compounds (closed chain)

Unbranched chain P

Branched chain

Homocyclic C M P

Heterocyclic C M

$CH_3_CH_2_CH_2_CH_3$

$CH_3_CH_2_CH=CH_2$

$CH_3_CH_2_C\equiv CH$

$CH_3_CH_CH_3$

$CH_3$

$CH_3_C=CH_2$

$CH_3$

Aromatic

Non aromatic

Aromatic C M P

H



Benzen

Alicyclic c m p





N

H



N

H





N



N

H



هایدروکاربونونه

الیفاتیکی هایدروکاربونونه

اروماتیکی هایدروکاربونونه

(c) ketabton.com: The Digital Library






سایکلوالکان الکانCnH2nCnH2n+2

الیفاتیک یاځنځیری هایدروکاربونونهAliphtic Hydrocarboms:-

الیفاتیک هایدروکاربونونه هغه مرکبات دی چی دکاربن اتومونه یی یودبل سره دځنځیرپه شکل په مستقیم ډول یا په منشعب ډول وصل شوی وی مګر اولنی اواخرنی کاربونونه یودبل سره وصل نه وی.

الیفاتیک ها یدروکاربونونه په دوبرخو ویشل شوی دی.

چی دالکان Alkane،سایکلوالکانCyclo Alkane،الکلینAlkelene اوالکاین یاالکیلین څخه عبارت دی.

## الکانـــــــــــــــ Alkane :-

الکان دکاربن اوهایدروجن الیفاتیکی مرکبات دی چی عمومی فارمول یی$CnH2n+2$دی اودمشبوع هایدروکاربونواویاپارافین هایدروکاربونوپه نوم یادیږی.دالکاین دمرکباتودنومونوپه اخرکی aneراځی چی دهغی ساده مرکبات معمولی نومونه یی لکه میتان،ایتان،پروپان،اوبیوتان،هغه الیفاتیکی مرکبات چی دکاربن شمیر یی پنځه اویادهغی څخه زیات وی دهغی نوم دلاتینی اعدادوڅخه اخیستل کیږی.

که چیری دالکان په مرکباتوکی دهایدروجن یواتوم کم شی نودغه ګروپ دالکایل Alkayelپه نوم یادیږی.دمثال په توګه:

$CH_3$--Methyl group $C_2H_2$—Ethyl group

که دمیتان څخه دهایدروجن دوه اتومه کم شی نودغه ګرپ —$CH_2$–دمیتلین په نوم یادیږی،دمثال په توګه.

Cl—$ch_2$—Cl Methylen chloraid

ددی کورنی هرمرکب له مخکنی او وروستنی مرکب څخه په ترتیب سره $CH_2$په اندازه توپیرلری ددی کورنی څلور لمړی مرکبونه میتان،ایتان،بروبان اوبیوتان دی په عادی تودوخه کی چی غازونه دی دپنځه څخه تر اوولس مرکب پوری مایع اودهغه وروسته جامد دی.

ټول مشبوع هایدروکاربونونه په اوبوکی نه حلیری مګر په نوروعضوی محلولونوکی لکه بنزین اوایتروکی حلیږی.که چیری یوعضوی مرکب په بل مرکب باندی تبدیل شی دغی طریقی ته دهمولوګHommologeیا متجانسه سلسله وایی وروسته دهمولوګ سلسله داسی تعریف کوو.

## Hommologe:-

دهغی سلسلی څخه عبارت ده چی په هغهکی مخکنی مرکب دوروستی مرکب څخه د$ch_2$یا میتایل دګروپ په اندازه فرق وکړی دعضوی کیمیاپه چوکاټ کی مشبوع هایدروکاربونوته سرحدی هایرروکاربونونه هم ویل کیږی ځکه دهایدروجن داتوموپه واسطه تر اخره سرح پوری مشبوع شوی وی دمشبوع هایدروکاربونوبل نوم پارافین دی یعنی لږفعاله مرکبونه چی خپله پارافین د دووکلیموڅخه جوړه شوی چی یوه یی Paramدلږاوبل یی offinisپه معنی دفعالیت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مشبوع هایدروکاربونوکی د$ch_2$یامیتایل ګروپ په اضافه کیدوسره ددی مرکباتوپه کیمیاوی خواصوکی توپیرنه راځی مګرددغه ګروب په اضافه کیدوسره یی فزیکی خواص یودبله فرق کوی څکه چی دغه دمالیکولی وزن په اضافه کیدوسره یی دجوش او ویلی کیدونقطی تغیرکوی.

- ❖ په لاندی مرکبونوکی کوم مشبوع هایدروکاربونونه دی؟

$C_{22}H_{44}$,$C_2H_2$,$C_8H_6$,$C_{10}H_{22}$,$C_8H_{18}$,$C_7H_{14}$,$C_5H_{12}$,$C_{12}H_{26}$,$C_{15}H_{30}$,$C_{16}H_{34}$

- ❖ ساختامانی مالیکولی فورمول دهغه مشبوع هایدروکاربونو ولیکی چی په خپل ترکیب کی 23"11"17"او40کاربونونه ولری.

یادونه:لمړی دری هایدروکاربونونه $CH_4$,$C_2H_6$,$C_3H_8$ ایزومیرونه نلری $C_4H_{10}$دوه دوه ایزومیرونه لری $C_5H_{12}$دری$C_6H_{14}$پنځه ایزومیرونه لری.

په لاندی جدول کی دځینوالکانو نومونه،مجموعی فورمول،دویلی کیدوټکی،داوشیدوټکی

| دایشدوټکی دولیکیدوټکیفورمولنوم | | | |
|---|---|---|---|
| Methane | CH4 | -184 | -164 |
| Ethane | C2H6 | -172 | -89 |
| Propane | C3H8 | -190 | -42 |
| Butane | C4H10 | -135 | -0,5 |
| Pentane | C5H12 | -129 | 36 |
| | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دنوم ایښودنی عمومی قاعده(نامگذاری):-**

***International of pure and aoolied chemistry(I U P AC)***

عضوی مرکبونه دIUPACدنوم ایښودنی (نامگذاری)پراساس نومول کیږی لاکن دځینوډیرومشهورومرکباتولپاره دIUPACدنوم ترڅنګ پخوانی مروج اومعمول نومونه هم جواز لری

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنوابیشودنی په معمولی سیستم کی دالکانومختلف ساختمانی ایزومیر دهغه دنوم نه مخکی دn,isoاوneoمختاړی (پیشوند)په کیښودلوسره توپیر کیږی.

په n-Alkaneکی دکاربن اتومونه یومستقیم ځنځیراوپه ISO-Alkaneکی منشعب ځنځیری ساختمانی لری .

$H_3C—CH_2—CH_2—CH_2—CH_3$ n-pentane

$H_3C—(CH_2)_8—CH_3$ n-Decane

$H_3C—CH_2—CH—CH_3$ iso-Pentane

$H_3C—CH—(CH_2)_2—CH_3$ iso-heptane

$CH_3$ $CH_3$

Neo-Alkaneهغه الکان دی چی دځنځیری ساختمانی په اخیرکی دری دمیتایل گروپونه ولری.



Neo pentane



Neo heptane

که چیری په مشبوع هایدروکاربونو(الکان)کی دکاربن په اتومونکی دالکایل یو گروپ نصب وی نودغه کاربن داولی کاربن Primary carbonsاوکه دالکایل دوه گروپونه نصب وی د دوهمی کاربن Secondary carbonsاوکه دالکایل دری گرپونه نصب وی د دریمی کاربن Tertiary carbonپه نوم یادیږی.




1. Primary Alkyl groups $H_3C — CH_2—$1 Carbon
2. Secondary Alkyl groups $H_3C—CH—$2 Crbon
   $CH_3$ $CH_3$
3. Tertiary Alkyl group $H_3C—C—$3 CARBON
   $CH_3$

(c) ketabton.com: The Digital Library



دIUPACدنوم ایښودنی په سیستم کی اصلی اساسی دنورمال هایدروکاربونوAlkanجوړوی.ددی څخه پرته نورهایړروکاربونونه اودهغی مشتقات په سیتماتیکی ډول دلاندی اساسی قاعدوله مخی نومول کیږی.

1. لمړی بایدهغه اوږدځنځیرپیداشیچی په هغه باندی دټولونه زیات فعال ګروپونه نصب وی دمثال په توګه لاندی ساختمانی فورمول به نظرکی نیسو.

$CH_2—CH_3$

$H_3C—CH_2—CH_2—CH_2—CH$

$H_3C—C—Br$

$CH_2—CH_3$

په دی ساختمانی فورمول کی اوږدځنځیردکاربن اته اتومونه لری یعنی Octane

2. ددغه اوږدځنځیردکاربن اتومونه بایددهغه سرنه وشمیرل شی ترڅودکاربن هغه اتومونه چی زیاتی معوضی substitutesلری کوچنی عدد واخلی.

$CH_2—CH_3$

$H^8{}_2C—CH_2{}^7—CH_2{}^6—CH_2{}^5—CH^4$

$H_3C—C^3—Br$

$CH^2{}_2—CH_3$

دکاربن هغه اتوم چی زیاتی معوضی لری دریم کاربن دی نوله همدی کبله دکاربن دځنځیرشمیرنه له ښی خوا نه شروع شو.

3. معوضی بایدونومول شی اودهغه موقیعت دکلربن داتوموپه خنځیرکی تعین شی.

$CH_2—CH_3$ 3--bromo

$H^8{}_2C—CH_2{}^7—CH_2{}^6—CH_2{}^5—CH^4$3--methyl

$H_3C—C^3—Br$ H--Ethyl

$CH^2{}_2—CH_3$

4. دمرکب باید ولیکل شی چی په هغه کی معوضی substituteدالفبا په شکل ترتیب شوی وی .

3- Bromo-4-ethyl-3-methyl octane

5. که یوه معوضیه په یوه الکان کی څوځلی موجوده وی نودغه معوضیه د tetrautri hexa ,penta ............ په شکل ښودل کیږی اوجپ خواته یی دهغه کاربن عددونه لیکل کیږی چی په هغه کاربن باندی معوضی نصب دی .دمثال په توګه.

$^6CH_3$

Br $CH_3{}^5CH_\ CH_3$

$^1H_3C_{}^2CH_{}^3C\ _{}^4CH_Br$

$CH_3$

یوڅومثالونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



2,4-DIBROMO-3,3,5-TRIMETHYL HEXANE

$^{1}H_3C—^{2}CH—^{3}CH_2—^{4}CH_3$          $CH_3$          $CH_3$

|          |          |

$CH_3$ $^{1}H_3C—^{2}C—^{3}CH_2—^{2}CH$          $Cl—^{1}CH_2—^{2}C—^{3}CH_2—^{4}CH_3$

2-Methl butane          2,2-Dimethyl butane          1-chlor-2-methyl

ISo pentane          Neo hexane          butane

## **<u>ساختمانی ایزومیری:</u>**

هغه مرکبات دی چی یوشان مجموعی فورمول لری لیکن مختلف ساختمانونه ولری ایزومیربلل کیږی دمثال په توگه بیوتانButaneچی مجموعی فورمول یی $C_4H_{10}$دی .اخیت ورکولای شی چی یو یی عادی یا n = normal او بل یی isobutene چی مساوی = isos دی

په n- butane کی د کاربن اټومونه یو په بل پسی د ځنځیر کړیو په شان تړلی دی اما iso butane یو منشروب ساختمان لری .

$C_4H_{10}$ $CH_3$-$CH_2$-$CH_2$-$CH_3$N-butane$C_4H_{10}$          i so-butane

H

I

$H_3C$ _C _ $CH_3$

I

$CH_3$H

I

$CH_3$-$CH_2$-$CH_2$-$CH_2$-$CH_3$     $CH_3$-$CH_2$-C-$CH_3$     $H_3C$-C-$CH_3$

I          I

$CH_3$          $CH_3$

ایزومیرN-Pentane          ISO-Pentane          Neopentane

د Hexaneایزومیری په لاندی ډول دی.

A: $H_3C$-$CH_2$-$CH_2$-$CH_2$-$CH_2$-$CH_3$          B: $H_3C$-$CH_2$-$CH_2$-CH-$CH_3$

نارمل هگزان          امیتایل هگزان

$CH_3$

$CH_3$

I

C: $H_3C$-$CH_2$-CH-$CH_2$-$CH_3$     D: $H_3C$-C-$CH_2$-$CH_3$     E: $H_3C$-CH-CH-$CH_3$

(c) ketabton.com: The Digital Library



I I I I

CH3 CH3 CH3 CH3

دای میتایل هګزان دای میتایل هګزان میتایل هګزان

هر څومره چی د کاربن اټومونو شمیر زیاتیږی په هم هغه اندازه یی د ایزومیر مقدار هم زیاتیږی .

کارنخانګی : د C7H16هیتان هایدروکاربن ټول ممکنه ایزومیرونه ولیکی او نومونه یی واخلی؟

دالکانو استحصال: الکان د مختلفو طریقو پواسطه استحصال کیدای شی.

۱: د الکین د کتلستی هایدوجنشن څخه : غیر مشبوع هایدوکاربونونه Alkenesد فلزی کتلست په موجودیت کی هایدروجن په خپله دوه ګونی اړیکه نصب کوی او مشبوع هایدروکاربنونه Alkenesحاصلیږی . څرنګه چی الکین د مختلفو طریقو په واسطه په اسانی لاسته راوړل کیږی نو له همدی کبله د الکانو د استحصال دغه طریقه ډیره مهمه شمیرل کیږی.

$CNH_2N+H_2 \xrightarrow{NI} CNH_2N+_2$ $C=C+H_2 \xrightarrow{\text{فلزی کتلست}} -C-C-$

د مثال په توګه:

$H_3C-C=CH-(CH_2)_4-CH_3+H_2 \xrightarrow{NI} H_3C-CH-(CH_2)_5-CH_3$

2- Methyl -2-octene 2-Methyl octane

الکان د الکایل هلوجین څخه په مختلفو طریقه لاسته راځی چی په لاندی ډول تشریح کیږی .

۲-د ګرینارد د مرکباتو د هایدرولیز څخه : د ګرینارد مرکب د الکایل هلوجینو او مګنیزیم د تعامل څخه لاسته راځی . دګرینار په معیار کی د کاربن او مګنیزم اړیکه ډیره فعاله ده او د اوبو پواسطه په آسانی سره جداکیږی. پروتون په کاربن چی منفی چارج لری او هایدروکسیل ایون په چارج مګنیزیم باندی چی مثبت چارج لری نصب کیږی.

$R-X+MG \xrightarrow{\text{وچ ایتر}} R-H+MG(OH)$ RMGX+H2O

$R-X+MG \rightarrow R>Mg-X$ X= (CL, BR, I)

$R>Mg-X+H2O \rightarrow R-H+Mg(OH)X$

الکان

د مثال په توګه :

CH3 CH3 CH3

I I I

(c) ketabton.com: The Digital Library



$CH_3$-CH-$CH_2$-BR-MG $\xrightarrow{Ether}$ $CH_3$-CH-$CH_2$-MgBr $\xrightarrow{+H_2O}$ $CH_3$-CH-CH

R.$CO_2$H $\longrightarrow$ RH+$CO_2$ Mg (0H) Br

$CH_3$ $CH_3$

$H_5C_2$-CH-$CH_2$-$CH_2$-BR+Mg $\xrightarrow{Either}$ $H_5C_2$-CH-$CH_2$-$CH_2$-MgBr

1-Bromo-3-methyl pentane

$CH_3$

$H_5C_2$-CH-$CH_2$-$CH_2$-MgBr +$H_2$0 $\longrightarrow$ $H_5C_2$-CH-$CH_2$-$CH_3$+MG (OH) Br

$CH_3$ 3-methyl pentane

۳- د الکایل هلایدونو تعامل دیومفوتری فلز او هلوجنی تیزابو پواسطه .

R-X+Zn+Hx $\longrightarrow$ R-H +Zn$X_2$

دمثال په ډول: $CH_3$-$CH_2$-CH-$CH_2$-$CH_3$+ZnBri $\longleftarrow$ $CH_3$-CH-$CH_2$-$CH_2$-$CH_3$+Zn+HI

$CH_3$ Br $CH_3$

2-Bromo-3-methyl pentane 3 methyl pentane

4: د الکایل هلایدونو تعامل د سیتم المونیم هایدراید (LI AL $H_4$) او یا سودیم بوروهایدارید ($NABH_4$)د ارجاع په واسطه الکایل هلوجیند په الکان بدلیږی.

4R-X+$NABH_4$ $\xrightarrow{Either}$ 4R-H+NAX+$BX_3$

**<u>د مثال په ډول:</u>**

4$H_3$C-$(CH_2)_7$-CH-$CH_2$-Br+LiAl$H_4$either $\longrightarrow$ 4$H_3$C-$(CH_2)_7$-CH-$CH_3$+LIBr+Al$Br_3$ $CH_3$
$CH_3$

**<u>دورتس نتیز</u>**: که چیری دوه مول الکیل هلاید ددوه مول فلزی سوډیم سره ترکیب شی په نتیجه کی الکان لاسته راځی. 2R-X+2Na $\longrightarrow$ R-R+2NaX دمثال په ډول:

2$H_3$C-$CH_2$-$CH_2$-$CH_2$-$CH_2$-Br+2Na $\longrightarrow$ $H_3$C-$(CH_2)_8$-$CH_3$+2NaBr

1-Bromo decane Decane

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعضوی مالگو له سوډیم ،پوتاشیم او یا کلسیم له الکترولیز څخه الکان لاسته راځی مثلا

$2CH_3\text{-}CH_2\text{-}COONa+2H_2O \longrightarrow CH_3\text{-}CH_2\text{-}CH_2\text{-}CH_3+2NaOH+2CO_2+H_2$ Sodiumbutalyte Butane

دالکان خواص اواستعمال:

د الکانو اول څلور مرکبات میتان،ایتان،پروپان او بیوتان په عادی تودوخه کی غازونه دی -N Heptadecan نه تر n- pentane (C17 H36) مرکب پوری مایع او د هغی نه لوړ الکان د جامد په حالت پیداکیږی. مایع الکان د بنزین بوی لری لیکن ګازی او جامد الکان بوی نه لری . الکان په ضعیفو محلولو

او بنزین کی په شه توګه حلیږی . لیکن په قوی محللو لکه اوبه او یا دای میتایل سلفاید کی د الکانو د حلیدو قابلیت ډیر کم دی . کله چی د الکان په مرکب کی د CH2 یو ګروپ اضافه شی نو د ایشیدو ټکی یی لوړیږی . منشروب الکان N-Alkaneپه پرتله د تودوخی په ټیټه درجه کی ایښی.

په لاندی جدول کی د ځینو الکانو مالیکولی وزن، د ویلی کیدو او ایښیدو ټکی درکړل شوی دی .

| الکان | مالیکولی وزن | د ویلی کیدو ټکی $C^0$ (M.P) | د ایښیدو ټکی (B.P) |
|---|---|---|---|
| Butane | 58,1 | -138,3 | -0,5 |
| I so butane | 58,1 | -159,4 | -11,7 |
| Pentane | 72,3 | -129,7 | +36,1 |
| I so pentane | 72,3 | -159,9 | +27,9 |
| Neo pentane | 72,3 | -16,6 | +9,5 |
| Hexane | 86, | -95 | +69 |
| I so hexane | 86 | -188 | +60,3 |
| 3- methyl pentane | 86 | -188 | +63,3 |
| 2-3 Di methyl butane | 86 | -128,5 | +58 |
| Neo hexane | 86 | -99,9 | +49,7 |
| Hexametylethane | 114 | +100,7 | +106,5 |

دپورتنی جدول څخه په ښه توګه څرګندیږی چی د منشروب الکانو د ایښیدو ټکی د نورمال الکانو په پرتله ټیټ دی . د مثال په ډول n-pentane په $36,1\ C^0$

(c) ketabton.com: The Digital Library



او Neo pentane په $9,5C^0$ کی په ایښیدو راځی.
د الکانو گازونه د ځمکنی گازو (طبیعی گاز) اصلی برخه جوړوی. طبیعی گاز د ځمکی لاندی د پترولیم پر سر گازونه دی چی ۸۵٪ میتان ۱۰٪ یی ایتان ۳٪ پروپان او له دی پرته بوتان ،کاربن ډای اکساېډ، اکسیجن ، نایتروجن ، هایدروجن ، هایدروجن سلفایډ او نورغازونه پکی وی . د الکان گازونه په فولادی بوتلو کی ځای پرځای کیږی او له هغه څخه د سوځولو لپاره گټه اخیستل کیږی. په تخنیک کی د میتان څخه د تودوخی په $450C^0$ او نیکل په موجودیت کی هایدروجن او کاربن مونو اکساېډ حاصلیږی.

$$CH_4+H_2O \xrightarrow[1800C^0]{NI} CO+3H_2$$

$CH_4+H_2O \longrightarrow CO+ 3H_2$ ,$C_NH_{2N+2}+NH_20 \longrightarrow NCO+ (2N+1) H_2$

$CH4+CO2 \quad 2CO+2H2 \quad C_NH_{2N+2}$ 2NCO+ (N+1) H2

**د الکانو تعاملات**: (ALKYNE,ALKENE)پرخلاف مشبوع الکان حتی په ډیره لوړه تودوخه کی هم د غلیظو فلزی تیزابونو، قلوی،او د تخمض او ارجاع کوونکو موادو سره تعامل نه کوی. د الکانو هلوجنشین تعویضی تعاملات او د تحمض یا سوزلو تعاملات د الکانو د مهمو تعاملاتو څخه شمیرل کیږی،

مگر په خاصو شرایطو کښی کولای شی چی لاندی ځینی نور تعاملات پری اجرا شی .

1-aulo genations 2- sulphonation 3-combustion 4-aut oxidation 5-nitration

**کیمیاوی خواص**: پورته ذکر شوی تعاملات د الکانو د کیمیاوی خواصو لپاره کیفیت کوی.

۱-هلوجنشین(halogenations)الکان په تیاره او عادی تودوخه کی د هلوجن د مالیکولو سره لکه (کلورین، برومین ...)تعامل نه کوی .

لیکن که د الکانو او هلوجن مالیکول ته د لمر وړانگی ورسیږی یا د$۳۰۰Co$ څخه زیاته تودوخه ورکړل سی نو تعویضی تعاملات (substitutions reaction)اجرا کیږی چی د هغی په نتیجه کی الکایل هلوجنیداو hxحاصلیږی .

$$RH+X.X \longrightarrow RX+HX$$

1

$$\begin{array}{c} H \\ | \\ H\text{-}C\text{-}H+BR\text{-}BR \end{array} \qquad \begin{array}{c} H \\ | \\ H\text{-}C\text{-}BR+HBR \end{array}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



I I

H H

Methyl bromide (mono bromomethayle)

2 د میتان او کلورین د تعامل څخه مختلف محلولونه لکه میتایل کلوراید (کلورمیتان) میتلین کلوراید(ډای کلورو میتان ) کلوروفورم (تری کلورومیتان) کاربن تیتراکلوراید(تیترا کلورومیتان) حاصلیږی.

1: $CH4+CL2 \longrightarrow CH3CL+HCL$

Methyl chloride (mono chloromethane)

2: $CH3CL+CL2 \longrightarrow CH2CL+HCL$

Methylene dichloride (dichloromethane)

3: $CH2CL2+CL2 \longrightarrow CHCL3+HCL$

Chloroform (tri chloromethane)

4: $CHCL3+CL2 \longrightarrow CL4+HCL$

Carbon tetrachloride (tetra chloromethane)

## Oxidation , combustion :احتراق

د الکانو سوځیدل د اکسیجن په مجودیت کی ددی باندی گرځی چی په نتیجه کی کاربن ډای اکساید، اوبه او انرژی تولید کړی چی عمومی معادله یی پدی ډول ده .

$$CNH2N+2 \xrightarrow{+3N2+1} O2 \longrightarrow NCO2+ (N+1)\ H2O$$

Example: $C_9H_9 \xrightarrow{.2+2+3.9} +1\ O2 \longrightarrow 9CO_2+ (9+1)\ H_20$

N=9

$$C_9H_20+14O_2 \longrightarrow 9CO+10H_2O+E$$

نوموړی تعاملات انرژی ته ضرورت نلری له خپله ځانه انرژی خارجو (Exeo thermic)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- <u>خود بخودی تحمض: (Auto oxidation)</u>عضوی مرکبات نه یوائی د سوزولوپواسطه دهوا دا کسیجن سره تعامل کوی بلکه دوی په عادی تودوخه کی هم د هوا داکسیجن پواسطه په ورو ورو تحمض کیږی .

د تحمض دغسی جریان چی په هغه کی کتلست نه استعمالیږی د خود بخودی تحمض یا (Auto oxidation)په نامه یادیږی .

او په دی ډول تعاملاتو کی پر ځای ددی چی انرژی آزاد کړی انرژی ته ضرړرت لری یعنی (Endo thermic)دی.

غیر فعال (n-alkene) په عادی تودوخه کی په ډیره کم اندازه تحمض کیږی. لیکن منشروب الکان بالخصوص چی دریمی کاربن ( Tertiary carbon)ولری د تودوخی په لوړه درجه کی تعامل کوی .

1:

```
              CH3                 CH3
               |                   |
1: H3C-C-H+O2 --140C0--> H3C-C-O-OH
               |                   |
              CH3                 CH3
```

